TECHNATION
...beyond innovation

مطبوعاتي اعلاميه
د سملاسي خپراوي لپاره
د سنبلې ۲۷، ۲۰۱۵

## په مزار شريف کې د افغانستان د نوښت لابراتوارونه د هېواد عمده ټولنيزو ستونزو لپاره د خاصو ټکنالوجيکي حلونو له ايجادولو سره پای ته ورسېد

(سنبلې۲۷، ۲۰۱۵/ ټيک نيشن- مزارشريف): په مزارشريف کې د نوښت لابراتوارونه (Innovation Labs) ، چې د آی لبز (sbaLi) په نامه هم مشهور دي، وروسته له هغې پای ته ورسېدل چې ګډون والو يې د افغانستان د عمده اجتماعي ستونزو لپاره نوي ټکنالوجيکي حلونه ايجاد کړل. آی-لبز د ټولنيز نوښت پروګرام دی، چې مزار شريف کې يې د ۱۰۰ اجتماعي او ټکنالوجيکی فعالانو بېلابېلې غونډې راونغاړلې. د آی-لبز ۴مه غونده ده، چې د ټيک-نېشن اداري لخوا د سپټامبر له ۱۴مې تر ۱۷مې د بلخ پوهنتون په آی ټي مرکز کې تر سره شوه. آی لبز د ټولنيز نوښت د ورکشاپونو يوه لړۍ ده، چې په دريم او څلورم پړاو يې په فبروري کې له هراته پيل او کابل، جلال آباد او اوس مزارشريف ته وغځېد.

د مزار شريف آی-لبز ګډونوالو اجتماعي او چاپېريالي ستونزې، چې پر صحت، تعليم، زراعت، فقر، حکومتولی، عدالت او قضا، د مېرمنو او بشر حقوق، او طبيعي پېښو اړوندې وې تر بحث لاندې ونيولې او دغو ستونزو نه ځينو ته د رسېدني لپاره يې ټکنالوجيکي حلونه تشخيص کړل او انکشاف يې ورکړ. ګډونوالو د ستونزو ۷ عمده ساحې تشخيص کړې او حلونه يې پيشنهاد کړل.

د آی-لبز پروګرام کې يو ابتدايي لابراتوار، چې ګډونوالو په کې اجتماعي ستونزې او ممکنه حللارې تشخيصي کړې، او يو اصلي لابراتوار چې په کې يې دغو مشخصو حللارو لپاره د کاغذ او بيا په کمپيوټر کې سافټويري مفکورې جوړې کړې. د ټيک-نېشن شرکت رئيس عمر منصور انصاري وويل: "آی-لبز افغانانو ته د په زړه پورې ټکنالوجيو او مفکورو د پنځوني بهترين فرصت په لاس ورکړي، او که دغه مفکورې تطبيق شي افغانستان به بدل کړي."

د آی-لبز اختتاميه او جوايزو مراسم د سپټامبر پر ۱۰مه، ۲۰۱۵ په مزارشريف کې تر سره شول. په دغو مراسمو کې د ننګرهار لوړ پوړو چارواکو، د مدني ټولني، صنعت او پوهنې د سکتورونو مشرانو، د بلخ پوهنتون د رئيس په شمول، برخه واخستله.

آی-لبز ۳ سافټريري مفکوره ای نمونو (پروټوټايپونو) ته د بهترين پروټوټايپ جايزې د يوه ژوري هيئت له بررسی وروسته ورکړې. د لومړي پروټوټايپ جايزې ګټونکو به وروسته هم حمايت کېږي، چې خپله سافټويري مفکوره په بشپړ سافټوير واړوي. دغه سافټويرونه تر جوړېدا وروسته اينجوګانو او نورو دوايرو ته ورکول کېږي، چې په خپلو کارونو کې تر استفاده وکړي.

د آی-لبز په اړه:
د نوښت لابراتوارونه په ۲۰۱۲ ام کال کې په کابل کې د انټرنيوز لخوا د يو-اېس-آی-ډي په مرسته پيل شو. په ۲۰۱۴ ام او ۲۰۱۵ ام کې انټرنيوز له ټيک-نېشن څخه وغوښتل چې د نوښت لابراتوارونه داير او هرات، جلال آباد او مزارشريف ته يې هم وغځوي. د آی-لبز هدف دادی چې د ښځينه او نارينه اجتماعي کارپنځګرو يوه خورا فعاله ټولنه ايجاد کړي. آی-لبز د پوهې او تجربو په شريکولو، د اجتماعي ښېګنيزو کارونو لپاره د نويو ټکنالوجيو ايجاد، او نورې نړۍ سره د افغانانو په وصلولو کې مرسته کوي.

د آی-لبز مزارشریف مدیریت د ټېک-نیشن لخوا وشو. زموږ نور ټولنیز شریکبانی ټېک-وېمېن افغانستان، ټېک-لبز، ټېک-افغانستان، ابتکار، الرټز نېټورک، بلخ پوهنتون، او مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجی وزارت، او رېلېشیا ول.

د ټېک-نېشن په اړه:
ټېک-نېشن یوه کابل-مېشتي د ټکنالوجی اداره ده، چې نړیوال نېټورک خو ځایي تمرکز لري. موږ په لاندې اتو ساحو کې کار کوو: د سافټوېرونو جوړول، مربي ګري او تعلیم، د نویو کمپنیانو لپاره د روزنیزو مراکزو جوړول، ولسي ټکنالوجي، اجتماعي روابط او مراسم، د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجی د مارکېټ تحقیقات او پالیسی تحلیل.

د انټرنیوز په اړه:
انټرنیوز یوه نړیواله غیر انتقاعي اداره ده، چې هدف یې په ټوله نړۍ کې د ځایي مطبوعاتو تقویه کول دي، تر څو خلکو ته هغه خبرونه او معلومات، چې دوی اړتیا ورته لري، د ارتباط وړتیا، او هغه وسایل ورکړل شي، چې ددوی د غږ په اورېدلو کې مرسته کوي.

پوښتنې لرئ؟
که چېرې کومه پوښتنه لري، نو په ډاډه زړه له موږ سره تماس ونیسئ:

عمر منصور انصاري
Tel: +93 788 161 862
Email: ilabs@technation.af
Web: http://ilabs.af

TECHNATION
...beyond innovation

نور معلومات:

هفه ټکنالوجیکي حلونه چې د آی لبز لخوا په مزار شریف کې تشخیص شول:

1. تعلیم: ددغه ګروپ ګډونوالو یو داسې سافټویري پروټوټایپ جوړ کړ، چې له ښوونځیو او کورنیو (خصوصا والدینو) سره مرسته کوي له یو بل سره آنلاین همکاري ولري.
2. صحت: ددغه ګروپ ګډونوالو داسې یوه سافټویري مفکوره باندې کار وکړ، چې پر نقشه د ډاکټرانو د کلینیکونو موندل او وخت اخستل اسانه کوي.
3. ښه حکومتولي: دغه ګروپ داسې یوه سافټویري مفکوره جوړه کړه، چې ولس ته د حکومت د خدماتو او پروسو په اړه معلومات ورکوي.
4. فقر: داسې یوه سافټویري مفکوره جوړه شوه، چې چې تولیدوونکی له پیرودونکي سره وصلوي، داخلي تولیداتو ته رشد ورکوي.
5. زراعت: دغه ګروپ داسې یو سافټویري مفکوره جوړه کړه، چې زراعتي امراض تشخیصوي او درمل ورته تجویزوي، همداراز بزګرانو ته بیلابیل معلومات وړاندې کوي.
6. امنیت: دغې ډلې د شخصي امنیت لپاره پر یوه سافټویري مفکوره کار وکړ، چې د خطر پر مهال زنګ وهي او د خطراتو کچه راکموي.
7. چاپیریال: دغه ګروپ داسې یوه سافټویري مفکوره باندې کار وکړ، چې د طبیعي پېښو څخه مخکې خلکو ته خبر ورکوي، او خلک د طبیعي پېښې له وقوع خبروي تر څو ځانونه خوندي کړي.